(c) ketabton.com: The Digital Library



يــو يــوا ځـــائـــے د جهـــان مـــالك زمـــا دے
يـــو الـــلّـــــه دے يـــو الـــلّـــــه دي دنيـــا دے
ښـــــۀ خبـــــردے خبـــــردار د تـــولـــو زړونـــو
اطـــميـــنـــــان د زړۀ قـــــرار د تـــولـــو زړونـــو
هـــر صـــفـــت ئـي د مـخـلـوق نـــه ډيـر جـدا دے
يـــو الـــلّـــــه دے يـــو الـــلّـــــه دي دنيـــا دے
د مـــوســـىٰ اود عيســـىٰ هـــغـــه مـــلـــګـــرے
دلتـــه هـــر ځـــائـــے د هـــر چـــا هـغـــه ملګـــرے
هـــريـــو ئـــي د جهـــان دلتـــه ريښتيـــا دے
يـــو الـــلّـــــه دے يـــو الـــلّـــــه دي دنيـــا دے
مـــا احـــمـــد تـــريـــنـــه غـــوښتـــلـــے هـــر دُعـــا ده
مـــا دعـــا دغـــه غـــوښتـــلـــے ښـــۀ صـــفـــا ده
مـــل مـــلـــګـــرے پـــه دُنيـــا مشـــكـــل كشـــا دے
يـــو الـــلّـــــه دے يـــو الـــلّـــــه دي دنيـــا دے

## حمد باري تعالىٰ ﴿ 28 ﴾

دا جهـــــان ربـــــه ! تـــول ستـــــا دے
پـــاس آســـمـــان رَبـــه ! تـــول ستـــا دے
هـــــريـــــو ستـــــوري د جهـــــان
نـــمـــر دے ستـــاد پـــاس اسـمـــان
حـــق بيـــان ربـــه ! تـــول ستـــا دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



رهنما زمونږ د ټولو
د سپرلي، خزان مالك دے
د هريو جهان مالك دے
مُدّعا زمونږ د ټولو
رهنما زمونږ د ټولو
د احمد هغه مولیٰ دے
حق مولیٰ زمونږ استاد دے
حق مولیٰ زمونږ د ټولو
رهنما زمونږ د ټولو

حمد باري تعالیٰ ﴿ 41 ﴾

څوك بادشاه دے څوك ملنګ
ډير روان دي څنګ په څنګ
څوك ګنده دے څوك دے پاك
څوك ښائسته دے څوك بدرنګ
څوك د امن طلبګار
چا سره دے لاس كښي سنګ
څوك حيا نه خبر نهٔ دي
چا وهلے ښائستهٔ لنګ
د چا زړهٔ دلته صفا
د چا زړهٔ نيولے زنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډیـــر ډېـــر ښــائستـــهٔ ښـکـلـــې دَ جــانــان کـلـــي
دلتـــــــه بــــــــه وسیـــــــــړمــــــــه بـــي غــمـــــــه زهٔ
خــــلاص بــــــه دَ هـــــر غــم یــم دَ عـــجــمــــــه زهٔ
مــــا زړهٔ کښـــي ســـاتـلـــې دَ جـــانـــان کـلـــي
ډیـــر ډېـــر ښــائستـــهٔ ښـکـلـــې دَ جــانـان کـلـي
دلتــــــه خـــوشبـــوئـــي دَ هـــر چـــمــن پـــرتـــــه
دلتــــــه خـــوشبـــوئـــي دَ هـــر وطــن پـــرتـــــه
مــــا احــمـــد ښـــودلـــې دَ جــــانـــان کــلـــې
ډیـــر ډېـــر ښــائستـــهٔ ښـکـلـــې دَ جــانـان کـلـي

## ( 8 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ښــکـلــې ښــائستـــهٔ کـلـــې دَ جـــانـــان کـلـــې
دا دې دَ نبـــــي اٰخــــــرزمــــــان ﷺ کــــلـــې
هــــــر څــــــــهٔ ئـــــي دارو ددي جهــــــان دي تـــول
هـــر څـــــهٔ ئـــي دارو پـــــه هــر مـکـــان دي تـول
څــکـــــه دا دې ډیـــر زیـــات عــالیشـــان کـلـــې
دا دې دَ نبـــــي اٰخــــــرزمــــــان ﷺ کــــلـــې
هـــــر څــــــهٔ ئـــي دي ښـــکـــلــی دَ دُنیـــــا د در
هـــر څـــهٔ ئـــي دي ښــکـلـــي پـــه هــر خـــوا د در
راشـــــــه دا اعــــلـــــیٰ دې قـــدردان کـــلـــې
دا دې دَ نبـــــي اٰخــــــرزمــــــان ﷺ کــــلـــې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ محمد خیر الابرار ﷺ کلی ته

## (42) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

رښه ! ما بوځې دَ جانان ﷺ کلی ته
دَ پاك نبی اخرزمان ﷺ کلی ته

رښه! دا سوال او التجا ده زما
تا نه مولیٰ دغه دعا ده زما
بوځې ما دغه عالیشان کلی ته
دَ پاك نبی اخرزمان ﷺ کلی ته

تا نه مولیٰ دا هر ساعت غواړمه
تا نه دا نور رڼا عزت غواړمه
بوځې مولیٰ ما دَ سلطان ﷺ کلی ته
دَ پاك نبی اخرزمان ﷺ کلی ته

دغه دعا سحر ماښام کوومه
دغه دُعا په هر مقام کوومه
رښه ما بوځې ښۀ روښان کلی ته
دَ پاك نبی اخرزمان ﷺ کلی ته

دُعا په ژبه دَ احمد علی ده
دا سې دُعا دلته دَ هر ولی ده
نبی ﷺ له زۀ شمه روان کلی ته
دَ پاك نبی اخرزمان ﷺ کلی ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ايـــمــــــان د تـــولـــو دے ايـــمــــــان زمــــا دے
رهبــــــر نبـــــى آخــــــرزمـــــان ﷺ زمــــا دے
نـــــعــــــتِ مـــــصـــــطـــــفـــــىٰ ﷺ

## ( 96 ) نعتِ مصطفىٰ ﷺ

راجمع كوومه ښـهٔ لفظونه ترينه نعت جوړومه
ورسره لوئي اوچت خيالونه ترينه نعت جوړومه
نـعـت د نبـى ﷺ چي عبـادت ورتـه عـالـم وئيلـے
عـالـى لفظونـه لټوومـه تـريـنـه نـعـت جوړومـه
د ربَ كتـاب دغـه بيـان مونـړ تـه ښـودلـے دلتـه
زهٔ راولـم ښـهٔ مثـالـونـه تـريـنـه نعت جوړومـه
پـاس لـه آسـمـانـه اے انسانـه پاك نبى زمونـړه
داسـيُ لـرمـه زهٔ سوچونـه تـرينه نعت جوړوومه
هــغــه بيشـميـره صـفـتـونــه د دنيــا د خـلـقـو
راجـمـع كوومـه دا گـلونـه ترينـه نعت جوړومـه
هــريــو ادائــي د جهــان خـلـق پــه لـعـل يــادوى
زهٔ جمـع كوومـه دا لعلونـه تـرينه نعت جوړومه
هسي بـه تيـر نـهٔ شي دنيـا كښي د احمدعلى ژوند
قيـمتـى كوومـه خپـل وختـونـه ترينه نعت جوړوومه

## ( 97 ) نعتِ مصطفىٰ ﷺ

رهـــــنـــــمــــــــا د نيك اوبـــــــد دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



خــــوك د جـــنـــګـــلــــي ســــره نـــزدې ولاړ

درود ســــلام وائــــي ذکــــرونــــه کــــوي

خــوك مــديــنــه کبنــې ســلامــونــه کـوي

خــوك پــه مــکــه کبنــې قــدمــونــه اخــلــي

خــوك مــديــنــه کبنــې قــدمــونــه اخــلــي

ډيــر پــه کبنــې ځــائــے پــه ځــائــے نفلــونــه کــوي

خــوك مــديــنــه کبنــې ســلامــونــه کـوي

خــوك د صــديــقؓ عــمــرؓ پــه څــنګ ولاړ دي

خــوك د اســلام پــه ښــکــلــي رنګ ولاړ دي

خــلــق پــه جــمــع تــول مــونځــونــه کــوي

خــوك مــديــنــه کبنــې ســلامــونــه کـوي

خوك پــه مــکــه کبنــې پــاتــے کــيــږي اوســي

خــوك مــديــنــه کبنــې پــاتــے کــيــږي اوســي

پــه اطــمــيــنــان پــه کبنــې خــوبــونــه کــوي

خــوك مــديــنــه کبنــې ســلامــونــه کـوي

خــوك د صــفــا مــروه پــه غــر بــانــدې دي

بــاب الــســلام ســره خــوك در بــانــدې دي

غــواړي د ربّ نــه دوی ســوالــونــه کــوي

خــوك مــديــنــه کبنــې ســلامــونــه کـوي

دغــه مــنــظــر احــمــده ! ډيــر دے ښــکــلــے

(c) ketabton.com: The Digital Library



هيـــڅ راســــره نشتــــــه اوس تــنهـــا شــومـــه

زۀ چـــې د خپـــل يـــار نــــه نـــن جُــدا شــومـــه

زړۀ زمـــا قـــرار کـــلـــى کېنــې پــاتـــے شـــو

زړۀ رانــــه ديـــار ﷺ کــلــى کېنــې پــاتـے شــو

بـــــس يـــو تـــمـــنـــا شــوه داحــمــدعــلـــى

ختــمـــــــه داويـــنـــا شـــوه داحــمــدعــلـــى

هـــرچـــا نـــه بهـــار کــلــى کېنــې پــاتـے شــو

زړۀ رانــــه ديـــار ﷺ کــلــى کېنــې پــاتـے شــو

## نعتِ مصطفىٰ ﷺ ﴿ 190 ﴾

زمـــونـــږ نبـــى ﷺ ښـکـلـے دے ښـکـلـے دے

لـــکـــــــه ســپـــرلــــے دلتـــــه راغـــلــــے دے

صــفـــت ئـــې کــړے دے مـــولـــىٰ زمـــونــــږه

د هـــــريـــــو درد مـــقـــتـــدا زمـــونـــــږه

خپـــلــــو پـــــردو تـــولـــو مـــنـــلـــے دے

زمـــونـــږ نبـــى ﷺ ښـکـلـے دے ښـکـلـے دے

زمـــــونــــــږ ايـــــمـــــان د دې دنيــــا د ر

حـــق اطـــمـيـــنـــان دے د هـــرچـــــا د ر

تـــولـــو صـــــــادق اميـــن بـــلـــلـــے دے

زمـــونـــږ نبـــى ﷺ ښـکـلـے دے ښـکـلـے دے

لاړو دنيـــــا نــــــه پـــــاس آســـمـــان تـــــه

